PROPERTY OF ACKU

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER A.M.R.C

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ. ش

DAILY اراده

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه

۸۸۹

لسم کال - دویمه دوره، ۸۸۹ مه گڼه، پر له پسې ۱۹۵۶ گڼه د ۱۳۸۹ ل ـ د تلې ۱۷ مه - د شنبې ورځ، د ۱۴۳۱ هـ ق ذوالقعدة الحرام لومړۍ ۲۰۱۰ د اکتوبر ۹ مه

یک سرباز المانی هلاک و شش تن دیگر مجروح شدند

در حمله انتحاری بر قطار نیروهای آلمانی در پلخمری مرکز ولایت بغلان، یک عسکر المانی هلاک و شش نفر دیگر زخمی شدند.

این حمله بعد از ظهر پریروز در نزدیکی پایگاه مشترک نیروهای آلمانی و امریکایی در قریه شهاب الدین مربوط حوزه سوم شهر پلخمری صورت گرفت. سید کمال الدین حسینی آمر امنیت ص ۳

بلاخره د سولې عالي شورا پر کار پیل وکړ



تر ډېرو هلو ځلو او منډو ترړو وروسته بلاخره د سولې عالي شورا وړمه ورځ د افغان ولسمشر حامد کرزي له خوا پرانیستل شوه او دغه شورا یې خپلواکه او د افغان ولس ستره هیله وبلله.

دغه شورا د تلې پر ۱۵ مه، د جمهوري ریاست په ارګ کې د یوې غونډې په ترڅ کې، چې د شورا غړي هم په کې حاضر و، پرانیستل شوه او پر کار یې پیل وکړ.

کرزي وویل، چې دغه شورا د سولې په مشورتي جرګه (د زمري ۱۲ -۱۴) کې د خلکو پرېکړه وه او د خلکو یوه ستره هیله ده.

جمهور رییس زیاته کړه: ((د سولې شورا یوه خپلواکه او خودمختاره شورا ده.))

کرزي زیاته کړه: ((دا لومړۍ غونډه د پرانېستې ده، راتلونکې اونۍ سره یو ځای کېږو او دا چې د سولې د عالي شورا د ریاست د تاکنې، د سولې د عالي شورا د دارالانشاء کار د څرنګوالي او دا چې غونډې په کومو وختونو کې ترسره شي، په خپله د سولې عالي شورا پرېکړه کوي.))

همدارنګه کرزي وویل، چې نړیواله ټولنه او افغان دولت له دې شورا څخه ملاتړ کوي او هر ډول همکاري ته چمتو دي.

د سولې عالي شورا، د دولت له وسلوالو مخالفینو سره د خبرو اترو او په افغانستان کې د جګړې د پای ته رسولو لپاره جوړه شوې ده.

ددې شورا په غړو کې، چې شمېره یې ۷۰ ته رسېږي، جهادي مشران او شخصیتونه، د ملي شورا یو شمېر غړي، د طالبانو د رژیم لوړ پوړي کسان او یو شمېر دولتي چارواکي شامل دي.

کله څه هم کرزي د دې شورا پر خپلواکۍ ټینګار وکړ ۳مخ

اعلان فاتحه

الحاج میرزا عبدالغفور پدر، انجنیر عصمت الله کارمند وزارت تحصیلات عالی، عبدالسمیع مدیر اداری روزنامه اراده، حاجی محمد ابراهیم و خال محمد تاجران در کندز، محراب الدین و قیام الدین محصلان پوهنتون کندز، برادران.

احمد خالد مقیم در خارج، احمد جاوید کارمند میوند بانک، محمد رفیع محصل در پوهنحی حقوق وعلوم سیاسی پوهنتون کابل، شفیق الله و عنایت الله متعلمان مکتب عبدالهادی داوی، پسران.

حاجی شاه رسول " مراد " مقیم در جرمنی، حاجی محمد رسول و حاجی گل رسول، خسربره ها.

عبدالعزیز " شکوری" ژورنالیست در کلید گروپ و حشمت الله محصل پوهنتون پولیتخنیک، برادرزاده ها.

نسبت وفات انجنیر عبدالمتین " شکوری" کارمند اسبق اداره امور که جنازه مرحومی قبلاً در حضیره آبایی شان به خاک سپرده شده، به اطلاع دوستان می رسانند که فاتحه مردانه به روزیکشنبه مورخ ۱۸ میزان سال جاری در مسجد جامع (نعمان بن ثابت) واقع مارکیت مکروریان سوم از ساعت ۱:۳۰ الی ۳:۳۰ و فاتحه زنانه در منزل مرحومی واقع مکروریان سوم بلاک ۱۳۲ دهلیز دوم اپارتمان ۱۸ برای یک روز گرفته میشود. دوستان مطلع باشند.

انا لله و انا الیه راجعون

شماره های تماس ۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴ — ۰۷۰۰۲۲۸۸۵۵

کاونټرپارټ نړیوالې اداره د "تاکنو" تر سرلیک لاندې یو ورځنی روزنیز ورکشاپ جوړ کړ

اراده، کابل –کاونټرپارټ نړیوالې اداره د روان کال د تلې د میاشتې پر ۱۵ نېټه د پنجشنبې پر ورځ په کابل ښار کې د ښځې او سیاست په برخه کې د خپلو روزنیزو ورکشاپونو په لړ کې دا ځل د تاکنو تر سرلیک لاندې یو ورځنی روزنیز ورکشاپ جوړ کړ. په دې ورکشاپ کې چې په لسګونو ښځو او نارینه وو ګډون کړی و، د تاکنو پر موضوع رڼا واچول شوه او په تاکنو کې د ښځو د برخې اخیستنې او رول په هکله هر اړخیزې خبرې وشوې. همداشان په دې برخې کې د ښځو پر مهمو ستونزو هم خبرې وشوې او د حل لپاره یې ځانګړې حل لارې وړاندې شوې. د دې ترڅنګ په تاکنیزو منډو ترړو کې د ښځو پر محدودیت او همداشان په افغانستان کې د ډیموکراسۍ په پروسه کې د ښځو پر ونډې او رول هم بحث وشو.

د دغه روزنیز ورکشاپ په هکله د دغه ورکشاپ یوې تنې مسوولې او د جندر د برخې کارکوونکې مېرمن عارفې صمدي ارادې ورځپاڼې ته داسې وویل: (د دغه ورکشاپ اصلي موخه جندر مسئله ده او په دې برخه کې د ظرفیتونو لوړل دي، افغان دولت ملي او بین المللي تعهداتو ته ګروهمن دی، نو مور فکر نه کوو، چې له دې مسئلې سره ممانعت وکړي او مور کولای شو، په دې برخه کې له هغوی سره خبرې وکړو او له هغوی سره په همغږیتوب کار وکړو. نومورې زیاته کړه، مور اوسمهال یوازې د کابل ښځې تر پوښښ لاندې نیولي، زمور لومړنی ګروپ، چې د جندر پررژه مخ ته وړي، د ښځې او سیاست تر سرلیک لاندې کار کوي، دغه ګروپ له تربنګونو نه خپل کار پیل کړی، چې په ۲۰۰۹ کال کې پیل شوي، لومړی مور هغه ګروپ ته روزنه ورکړه، چې د هېواد په سطحه مطرح و، وروسته د دوی له منځه فرعي ګروپونه انتخاب شول، نو په دې توګه اوسمهال زمور یو ګروپ د فارغبدو په حال کې دی، زمور نور ګروپونه هم د دې پروسې د بشپړولو په حال کې دي، چې هر ګروپ تر شپږ زیات ورکشاپونه باید طی کړي. همداشان نومورې زیاته کړه، زمور د نن ورځې موضوع ښځه او سیاست وه، چې په دې چارچوب کې د تاکنو پر موضوع بحث وشو. دا د شپږو ورکشاپونو له جملې نه د دوی درېیم ورکشاپ دی. زمور اساسي هدف دادی، چې ښځې خپل سیاسي حقوق وپېژني او پر هغو پوه شي او همداشان د ښځینه ظرفیتونو وده او پرمختیا ده. مور دغه پروګرامونه له ۲۰۰۹ کال راپه دې خوا پیل کړي او اوس هم دوام لري. نومورې دا هم وویل، چې د دغو ورکشاپونو اغېز اړومرو زیات دی او دا په یو دم هم خپل اغېز نه شي شیندلای، ځکه روز نه اوږمهال ته اړتیا لري، نو ځکه به یې اغېزې هم دوخت په تېر ېدو سره وروروز یاتې او ګټورې تمامې شي.)) د دغه ورکشاپ یوه تن ګډونوال او د افغان ښځو لپاره د روغتیایي او پرمختیایي مرکز کارکوونکي محمدشاه معروف د دغه ورکشاپ په هکله داسې وویل: ((د دغه ورکشاپ د جوړ ېدو موخه دا ده، څو د ورکشاپ ګډونوال وکولای شي، د تاکنو له پروسې، د تاکنو له څرنګوالي او په دې برخه کې د ښځو له رول او همداشان د تاکنو د اوسنۍ وضعیت له څرنګوالي خبر شي او په پای کې پر یوې اغېزناکې نتیجې سره یوې هوکړې ته ورسېږي.)) د دغه ورکشاپ یوې بلې ګډونوالې او د کابل ولایتي شورا غړې مېرمن نوابي د ورکشاپ په اړه خپل نظر داسې څرګند کړ: ((د دغه ډول ورکشاپونو یو کال کېږي، چې د کاونټرپارټ نړیوالې اداري له خوا په کار اچول شوي، په دې ورکشاپونو کې د ښځې او سیاست، همداشان د جندر مسئلې په هکله ښځو ته روزنه ورکول کېږي. زمور په ټولنه کې ډېرې ښځې او ان نارینه داسې فکر کوي، چې سیاست باید هغه ځوک وکړي، چې په سیاسي ګوند پورې اړه ولري، حال دا چې داسې نه ده، د مثال په توګه څه موده وړاندې د تاکنو په پروسه کې ګډون پخپله د سیاست په لور یو ګام دی یا کله چې مور دیموکراسي تمثیلوو، دا پخپله یو ډول سیاست دی. نو په دې توګه دلته یوازې ښځو ته د سیاسي پوهې او ظرفیت لوړولو روزنه ورکول کېږي.

نومورې زیاته کړه، زمور په ټولنه، حتا په کابل کې هم د سیاست په برخه کې ښځې ډېرې ستونزې لري، چې په دغه ورکشاپ کې ورته د حل لار لټول کېږي.)) همداشان د ورکشاپ یوه بل ګډونوکي او د ښځو چارو په وزارت کې د جندر او د ظرفیتونو د لوړولو مسول ذبیر رحیل د جندر په هکله داسې وویل: ((د جندر پراختیا یوازې د ښځو چارو وزارت دنده نه ده، بلکې نور دولتي او نا دولتي سکتورونه هم په کې برخه لري. دا چې زمور ریاست د عامه تبلغاتو او جندر ریاست دی، مور د جندر روزنیز پروګرامونه لرو، چې په دولتي ارګانونو او ولایتونو کې په کار اچول شوي. مور د دغو ورکشاپونو او سمینارونو له لارې د لوړې سطحې رهبرۍ نه تر ټیټې سطحې پورې پروګرامونه لرو. نومورې زیاته کړه، زمور په ټولنه کې تاوتریخوالی او خشونت شته، په دې توګه ښځې له خپلو حقونو څخه محرومول دا په خپله یو ډول خشونت دی. د ښځو وزارت یوا جرایوي وزارت نه دی، بلکې نورو ادارو ته پالیسي ورکوي، چې هغوی څنګه کولای شي له دا ډول تاوتریخوالي څخه مخنیوی وکړي. مور په دې وروستیو کې د کابل ښار په ولسوالیو د تاوتریخوالو د پېژندلو په هکله یو پروګرام درلود، چې په دې پروګرام کې مو د تاوتریخوالو پولونه وپېژندل او ښځو ته د دغو تاوتریخوالو د له منځه وړلو او کمولو په هکله روزنه ورکړل شوه.)) باید وویو، چې دا د کاونټرپارټ نړیوالې اداري له هغو ورکشاپونو څخه یو دی، چې د ښځې او سیاست تر نامه لاندې له ۲۰۰۹ کال را وروسته پیل شوي دي.

د لوی اویښونکي خدای (ج) په نامه

سرمقاله

کومې خصوصي امنیتي کمپنۍ باید منحل شي؟!

څه موده وړاندې افغان ولسمشر حامد کرزي په افغانستان کې د خصوصي امنیتي کمپنیو د بندولو امر وکړ، چې له املې یې ځینو شرکتونو ته عملاً ویل شوي، چې خپلې وسلې تسلیم کړي. کرزي دا پرېکړه وروسته تر هغې وکړه، چې په هېواد کې د یادو کمپنیو په اړه د خلکو ګڼې اندېښنې او ناخوښۍ را پورته شوې. دغو کمپنیو دومره خپلواکي او زورواکي کوله، چې ان د خلکو پر ژوند او مرګ یې هم ایله نه کوله، بس هر څه به یې چې زړه غوښتل، هغه به یې کول او لا هم پر دې چاره بوخت دي. دوی په دې وروستیو کې پر داسې ناروا کړنو هم لاس پورې کړ، چې نوره یې د ولس حوصله ختمه کړه او پر وړاندې یې خپل غږ اوچت کړ.

د یادونې ده، چې په دغو شرکتونو او کمپنیو کې نه یوازې افغاني کمپنۍ شتون لري، بلکې یو شمېر یې بهرنۍ هم دي او پوره پوره د بهر ملاتړ هم له ځانه سره لري. خو له دې سره سره د امریکا د کانګرېس تر خپلو ځېرونو وروسته دا ثابته کړه، چې دغه کمپنۍ په رښتیا هم د امنیت په خرابوالي کې لاس لري او همدا دوی دي، چې طالبانو ته پیسې ورکوي او د هغوی د غښتلتیا لامل ګرځي. په دې ترڅ کې وړمه وړځ په افغانستان کې د خصوصي امنیتي شرکتونو د کار په اړه د امریکا د سنا مجلس د یوې جرګې پلټنو وښوده، چې د امریکایانو ځینې امنیتي قراردادیان له طالبانو او یا ځایي جنګسالارانو سره تړلي دي او د امریکا پیسې پر جنایي فعالیتونو لګوي.

دا ریپوټ چې د سنا د وسلوالو ځواکونو کمېټې چمتو کړی وایي چې امریکایي پوځ ببخي زیات پر امنیتي شرکتونو ډېره لګولې او قرادادیان یې د هر ځل خپل ګومارلي کسان نه چاپوي.

په راپور کې راغلي (پر دغو قراردادي شرکتونو د امریکا کنټرول کله کله ببخي له منځه ځي او هغو ځایي ساتونکو چې په افغانستان کې د امریکایي اډو د ساتنې لپاره ګومارل شوي، کله کله مخامخ طالبانو ته کار کوي. همداشان د دغو کمپنیو مشري هغه کسان کوي چې په وژنو او سړي تښتونو کې لاس لري.)

د رسنیو په حواله، د سنا جرګې د وسلوالو ځواکونو د کمیټې په دې راپور کې همدا راز راغلي چې د امنیتي شرکتونو په شتوالي کې افغان حکومت نشواى کولى چې خپل پوځ ته وړ کسان وموميږي.

په افغانستان کې تر شپږ ویشتو زرو ډېر خصوصي امنیتي پرسونل شته. له هرو لسو څخه نهه یې د امریکا حکومت ته کار کوي.

راپور په دې نتیجې سره پای ته رسېدلی چې امریکا د هغو جنګي سالارانو په تمویلولو سره چې خپلې شخصي لښکر لري، پخپله په افغانستان کې د ټیکاو د ټینګولو لپاره خپل اعلان کړې هدف ته زیان اړوي.

سناتورانو غوښتنه کړې چې د خصوصي قراردادیانو د شمېر د کمولو او د هغوی د چارو او څارنې لپاره دې "سملاسي او کلک" اقدامات وشي.

په دې توګه باید ووایو، چې که چېرې خصوصي امنیتي کمپنۍ ونه ترڅ شي او همداسې خپلسرانه کارونه او عملیات وکړي، نو لرې نه ده، چې په هېواد کې به سوله نوره هم زیانمنه شي. که څه هم افغان دولت او سمهال له وسلوالو طالبانو سره د سولې د خبرو اترو وړاندیز کړی او په دې پار یې د سولې عالي شورا هم جوړه کړه او هیله ده، چې دا خبرې اترې او د دغې شورا پرېکړې او کړنې یوې مثبتې پایلې ته ورسېږي، خو ورسره د دغو خصوصي امنیتي شرکتونو د رول او موجودیت مسئله هم مهمه ده، ځکه په دغو شرکتونو کې ډېرې داسې خصوصي امنیتي شرکتونه هم شته، چې ښایي د کرزي ورباندې زور ونه رسېږي او یا هم ده ته د نږدې کسانو وي، نو له دې امله نوموړې نه شي کولای، چې له منځه یې یوسي. دا سمه ده، چې د دغو شرکتونو د منحلېدو په لړ کې به ځینې شرکتونه منحل شي او خلکو ته به هم عملاً دا وښي، چې دا دي امنیتي خصوصي شرکتونه منحل شول، خو که د دغه ډول شرکتونو د انحلال په کړې کې ټول دا ډول شرکتونه رانه شي، نو بیا هم د امنیت د خوندي توب ضمانت نشته، ځکه بیا هم هغه کسان پاتې کېږي، چې زور لري او په دولت او بهر کې قوي پایې لري. نو په دې توګه اړینه دا ده، چې ټول خصوصي امنیتي شرکتونه منحل شي او یو یې هم حتا د نمونې په توګه پاتې نه شي او که داسې ونه شي، نو د ځینو خصوصي امنیتي شرکتونو منحل کول هېڅ ګټه نه لري او د سولې ملي پروسه په پوره توګه اغېزمنولای هم شي.

پاک ښار د سالمې روغتیا ضامن دی

ذین الله صایم



پاکي د ایمان یوه برخه بلل شوې له همدې امله مونږ ټولو ته په کار دي چې د اسلامي دین او ټولنیز نظم لپاره د خپل ژوند په هره برخه کې پاکوالي ته پوره پاملرنه وکړو، او تل هڅه وکړو چې کور، کلي او کوڅې پاکې وساتو. د ښار پاک ساتل د ښار د هر اوسېدونکي دنده ده، دا کار یوازې تر ښاروالۍ او دولت پورې اړه نه لري، که مورږ لاس تر زنې کښېنو او تل دې ته په انتظار و اوسو چې، ښاروالي به راشي کوڅه به راته پاکه کړي ځکه چې دا د ښاروالۍ دنده ده. نو په دې کې ډول کړنو کې به مو خپل ځان ته زیان اړولی وي کېدای شي ښاروالي رانه شي او زمورږ کوڅه پاکه نه کړي نو مورږ به ټول وخت په چټله او بوینه کوڅه کې تګ راتګ کوو، چې دا کار به مورږ ته د روغتیا له مخې ډېرې ستونزې را ولاړې کړي.

په نړیواله کچه د پاکۍ او نظافت د اساساتو د رعایت په برخه کې د کابل ښار تر ټولو وروسته پاتې پلازمینه ده، چې پکې د روغتیا ساتنې د اصولو ډېر لږ رعایت کېږي مورږ د دې کمښتونو د لاملونو د پیدا کولو لپاره ډېر وروسته پاتې یو.

زمورږ د هېواد لږه اندازه وګړي زده کړې لري، له همدې امله دوی ټولګټې په پام کې نیولو ته دومره ارزښت نه ورکوي. دوی د ننه خپل کور پاکوي خو د کور ټولې ګندګۍ بیا کوڅې ته وباسي دې ته پام نه کوي چې کوڅه هم د ده د تګ راتګ سیمه ده. او همدی به هره وړځ له دې ګندګیو څخه تېرېږي او په دې باید پوه شي چې تر هر چا یې ده ته ډېر تاوان رسېږي. د وخت په تېرېدو د کوڅې ګندګۍ نورې هم خوسا او خرابېږي چې د دوبي په موسم کې د خورا ډېرې بدبویۍ لامل ګرځي.

مورږ باید له دې ناکاره دولت څخه ډېرې هیلې ونه لرو، ځکه دې او نورو مخکنیو دولتونو داسې کوم هر اړخیز پلان نه درلود او نه یې هم لري چې د هغه په واسطه د کابل د کانالېزاسیون مرکزي سېسټم ورغوي څو د هغې په واسطه د کابل ښار د ټولو دولتي او شخصي ودانیو فضله توکو په ویستلو کې مرسته وکړي.

د ښار خلکو ته باید د ښار د پاک ساتلو په اړه پراخ تبلیغات وشي آن تر دې چې د هرې ناحیې لپاره د ښار د پاک ساتلو په منظور روزنیز کورسونه تر لاس لاندې ونیول شي ترڅو د ښار ټول وګړي د خپل کور، خپلې کوڅې، او خپل ښار په پاکولو کې لېوالتیا وښیي او دې کار ته دارزښت په سترګه وګوري.

د ښار د عمومي او فرعي کوڅو د پاک ساتنې لپاره ټولنیز مسوولیتونه نه دي لازمي شوي او د ټولنیز خدمت فلسفه د ژوندانه یوه برخه نه ده ګرځېدلې. نه یوازې دا چې په ښار کې کار کوونکي ټولګي د ښار او د هغه د چاپېریال د ساتنې مسوولیت نه احساسوي بلکې هغه نور هم ککړوي بلکې له بد یې بدتر کوي او تل دې ته په هیله وي، چې د ښاروالۍ بوډا کار کوونکي به یې چې خورا بې وزله او خوارځواکي دي، د دوی له خوا جوړ شوي ښاري کثافات پاک کړي او دوی به له دې ستونزې څخه خلاص کړي.

دولت باید چې د جرمانې لپاره داسې جبري سېستم وضع کړي چې د هغې له مخې په ښار کې کار کوونکي ټولګي او د سوداګرۍ مالکان ځانونه مکلف وګڼې څو ښار پاک وساتي او د خپل کارو بار او اوسېدنې چاپېریال داسې پاک وساتي، لکه څنګه چې دوی خپل کور پاک ساتي. په ښار کې د اوسېدنې له فرهنګ سره باید ټول وګړي آشنا وي او دلته په کار ده چې په ټولو ادارو کې د ښاري ژوند پر اصولو ټینګار وشي او دا چې د ښار په ټولنیزو چارو کې د ګډون

۳مخ

در حملات انتحاری شهر کراچی ۱۰ تن کشته و ۷۵ تن دیگر مجروح گردیدند

درنتیجه دوحمله متواتر دریک زیارت در شهرکراچی ۱۰تن کشته و ۷۵نفر دیگر جراحت برداشتند.

این حملات پریشب در دروازۀ زیارت عبدالله شاه غازی واقع منطقه کلفتن به وقوع پیوست.

صلاح الدین بابرخنک رییس پولیس کراچی طی تماس تیلیفونی به آژانس خبری پژواک گفت: " حملات انتحاری زمانی صورت گرفته که تعداد زیاد مردم به زیارت آمده بودند."

قرار اظهارات موصوف، به اساس معلومات اولیه کشته شدن ۱۰ تن ومجروح شدن ۷۵تن یقینی شده است ، اما ممکن این رقم افزایش یابد.

به گفته موصوف، اکنون تمام زیارت های شهرکراچی به روی مردم مسدودشده است.

وی علاوه کرد که پولیس به حمله کننده گان امر توقف داد، اما آنها خود رامنفجر نمودند.

ذوالفقار میرزا وزیر داخله ایالت سند ارقام یاد شده را تایید کرد.

نامبرده این رانیز گفت که حملات در دروازۀ زیارت صورت گرفته ،اگر انتحارکننده گان وارد زیارت می گردیدند تلفات دیگر هم بیشتر می شد.

قراراظهارات موصوف، درتمام شفاخانه های کراچی حالت اضطرار نافذشده است.

ازجانب دیگر به ارتباط حملات متذکره گروه های مختلف مذهبی در ایالت سند ، ماتم سه روزه را اعلان کرده اند.

طالبان پاکستانی مانندگذشته مسوولیت این حملات را به عهده گرفته است.

قراردادی های ناتو...

نوشهره ایالت خیبر پشتونخواه و پل اتک مربوط ایالت پنجاب به وقوع پیوست.

طارق یکتن از شاهدان عینی گفت که افراد مسلح ناشناس، بعد از هوشدار دادن به رانندگان بر موترها شلیک نمودند که بعداً موترهای یادشده آتش گرفت.

یک تن از مسوولان دولتی محل به نام علی حنان، گفت که در این حمله، ۳۵ موتر اکمالاتی حریق گردیده است.

اما یک منبع امنیتی دیگر گفت که بعداً شعله های آتش به کانتینرهای دیگر نیز سرایت نموده و تعداد موترهای حریق شده، تا صبح به ۵۰ عراده رسید.

در ده روز گذشته، این چهارمین حمله یی است که بر موترهای اکمالاتی نیروهای ناتو در پاکستان، صورت میگیرد.

حملات مسلحانه بر موترهای اکمالاتی نیروهای ناتو، بعد از آن در پاکستان افزایش یافت که یک هلیکوپتر نیروهای یادشده، سه ملیشه سرحدی پاکستان را در خاک آن کشور به قتل رساندند؛ بعداً مسوولان پاکستانی، مسیراکمالاتی ناتو را از خاک ان کشور مسدود نمودند و راه تورخم، از هشت روز به اینسو به روی کاروانهای ناتو مسدود می باشد .

نیروهای امریکایی و ناتو از کشته شدن نیروهای سرحدی پاکستان در حمله هوایی درکرم ایجنسی، رسماً معذرت خواستند.

یک سرباز المانی هلاک ...

قوماندانی امنیه بغلان ضمن تایید این حمله گفت تلفات ناشی ازاین حمله بصورت دقیق در دست نیست.

یک باشنده این قریه به نام اخترمحمد به اژانس پژواک گفت که نخست یک شخص بر کاروان موتر های خارجی ها در نزدیکی این پایگاه، حمله انتحاری را انجام داد و بعداً یک موتر دیگر بر یک ماین کار گذاری شده منفجر گردید.

به گفته وی، زمانیکه سربازان دیگر توسط هیلکوپتر ها به محل آمدند، طالبان بر آنها حمله کرده و تبادله آتش شروع شد.

ضمناً ذبیح الله مجاهد یک سخنگوی طالبان میگوید که حمله انتحاری را یک طالب انجام داده که طی آن ۸ سرباز آلمانی کشته و یک موتر شان تخریب گردیده است.

با وقوع این حمله انتحاری، سخنگوی دولت آلمان اعلام کرد که صدراعظم این کشور با محکوم کردن «حمله وحشیانه» به سربازان آلمانی در افغانستان، عاملان آن را عناصر بزدل توصیف کرد.

به گزارش دویچه وله، «اشتفان زایبرت»، سخنگوی دولت آلمان اعلام کرد که «آنگلا مرکل»، صدراعظم این کشور با محکوم کردن «حمله وحشیانه» به سربازان آلمانی در افغانستان، عاملان آن را عناصری بزدل توصیف کرد.

صدراعظم آلمان همچنین با خانواده‌های قربانیان ابراز همدردی کرد.

پاک ښار د سالمي ...

پوښتنه د کارموندلو د پاڼې یوه برخه وي. د ښوونځيو ټول زده کوونکي بايد د داسې اړينو کارونو لپاره ډېر پياوړي مبلغين او فعال کارکوونکي وي او په دې برخه کې بايد پراخه روزنه ورکړل شي څو هم خپل ځان او هم خپلې ټولنې ته ګټور واقع شي.

له بلې خوا زمونږ په ښوونيز نصاب کې د ښاري ژوند د اصولو بنسټيزه مسئله په پام کې نه ده نيول شوي همدا لامل دی، چې نه ښوونکي او نه هم زده کوونکي د ښاري ژوند اصولو ته لکه چې په کار ده متوجه نه دي او پام نه ورته کوي.

د ژوند د چاپېريال ساتنې موضوع ته پام نشته او دا چې وګړي له دې څخه هم خبر تيا نه لري چې که د کابل او نورو سترو ښارونو چاپېريال همدغه ډول د ککړتيا پر لور روان وي نو ليري نه ده چې دلته به د داسې ناروغيو لمنه پراخه شي چې بيا به يې د درملنې امکانات نه وي.

دولت بايد د ښار پاکولو ته ډېر پام وساتي، د ښار ټول هټيوال بايد د خپلو هټيو د شاوخوا په پاکولو مکلف وبلل شي، له کوڅو څخه بايد ټولې قصابۍ وويستل شي، د ښار د کانالېزاسيون د رغېدو لپاره بايد په پوره ډول کار وشي، ښاروالي بايد د خپلو دندو د ترسره کولو احساس ولري. که نه په ښار کې به داوسنيو چټليو له امله يو لوی ناورين رامنځ ته شي. د ښار ټول اوسېدونکي به په ډول ډول ناروغيو اخته شي چې بيا به يې درملنه ستونزمنه وي.

بلاخره د سولې عالي ...

خو ځيني کارپوهان په دې اړه مشکوک دي.

د کابل پوهنتون استاد او کارپوه سيد مسعود پژواک خبري اژانس ته وويل، چې په افغانستان کې هېڅ نهاد خپلواکي نه ده لرلې او دغه شورا به هم خپلواکه نه وي.

مسعود وويل: ((دغه شورا به په بشپړه توګه خپلواکه نه وي او دا داسې شورا نه ده، چې سوله رامنځته کړي، بلکې دغه شورا د مسامعي لپاره د کړنلارې په جوړولو کار کوي.))

د نومورې په اند، په افغانستان کې جګړه استخباراتي ده او د شوراګانو له لارې پای ته نه شي رسېدلی.

د مسعود په اند، ددې شورا په ترکيب کې هم ملاحظات موجود دي، ځکه چې په دې شورا کې داسې کسان دي، چې هغوی په خپله د افغانستان لپاره ستونزې جوړې کړي او د هېواد په ورانولو کې يې لاس درلود، خو په دې برخه کې يې د چا نوم يادونه نه کړ.

برېتانوي ځواکونه د څه لپاره په افغانستان کې جنګېږي؟!

د بريتانيا صدراعظم ډيويډ کامرون د چهارشنبې په ورځ وويل ، بريتانوي پوځيان افغانستان ته د دې لپاره نه دي استول شوي چې په افغانستان کې بشپړه ولسواکي رامنځته کړي، بلکې هغوی د دې لپاره لېږل شوي چې ځان د سخت دريځو له بريدونو وساتي.

کامرون ټينګار وکړ چې بريتانوي پوځيان به يوه ورځ هم تر اړتيا زيات په افغانستان کې پاته نه شي.

ده دا خبره تکرار کړه چې له افغانستانه به د بريتانيا حربي يا جنګي ځواکونه په پنځو کلونو کې ووځي.

ښاغلي کامرون له واک ته رسېدو وروسته ويلي وو، چې د ده د صدارت د دورې تر پای ته رسېدو مخکې به درست بريتانوي پوځيان له افغانستانه وتلي وي.

د بريتانيا صدراعظم د خپل محافظه کار ګوند کالنی غونډې ته په برمنګم کې وويل: «مور په افغانستان کې د دې لپاره نه يو چې يوه بشپړه ديموکراسي هلته راولو. مور د ايډيالي خوبونو په فکر کې نه يو. يوازينی هدف مو خپل ملي امنيت دی.»

ده همداراز وويل: «تقريباً ټول هغه ترهګر، چې د ۲۰۰۱ کال د سپتمبر پر يوولسمه نېټه يې په حملو کې لاس درلود، په افغانستان کې روزل شوي وو. که مور سبا افغانستان پرېږدو، هماغه تروريستي کمپونه کېدای شي په اسانه بېرته جوړ او فعال شي، ځکه چې افغانان لا دې ته تيار نه دي چې د خپل هېواد امنيت په خپله وساتي.»

د بريتانيا صدراعظم د لندن حملو او ګڼو نورو تروريستي

بريدونو ته اشاره ونه کړه، چې پلان يې په پاکستان کې جوړ شوی و. خو د افغانستان په باب يې وويل چې که دوی پوی شي چې هلته د سخت دريځو د بيا واکمنېدو خطر نشته د دوی عسکر به يوه اضافي ورځ هم هلته تېره نه کړي.

د تاند د راپور له مخې، له ۲۰۰۱ کال راهيسې ،چې د طالبانو حکومت پرځېدلی ، تراوسه پورې ۳۳۹ بريتانوي پوځيان په افغانستان کې وژل شوي دي.

بريتانيا په افغانستان کې نژدې لس زره سرتېري لري چې له امريکا وروسته د نړيوالو ځواکونو په چوکاټ کې تر ټولو زيات دي. اکثره بريتانوي پوځيان په ناکرار هلمند ولايت کې ځای پرځای دي.

محمد عمر والی کندز با تعدادی از نمـازگزاران به شهادت رسید

انجینر محمد عمر والی کندز حین ادای نماز جمعه دریک مسجد مرکزی ولایت تخار با تعداد زیاد نمازگزاران دیگر کشته شد.



فیض محمد توحیدی سخنگوی والی تخار دیروز به آژانس خبری پژواک گفت که والی درنتیجه انفجار با ۱۲تن دیگر در مسجد جامع سپین زر جان باخت.

موصوف گفت که طی این انفجار ۱۵تن دیگر مجروح شده که بیشترین تلفات به افراد ملکی وارد شده است.

قرار اظهارات موصوف ، انفجار دراثریک ماین تعبیه شده رخ داد که ممکن رقم تلفات افزایش یابد.

هم چنان خبرگزاری فرانسه می افزاید، بر اثر انفجاری که دیروز در مسجد سپین زر در شهر تالقان، مرکز ولایت تخار روی داد ، محمد عمر، والی ولایت کندز و شماری دیگری از نمازگزاران جان باختند.

جنرال شاه جهان نوری، فرمانده پولیس تخار، شمار کشته شده گان این انفجار را پانزده و تعداد زخمی ها را بیست نفر اعلام کرد.

به گفته شاهدان عینی، انفجار زمانی روی داد که والی کندز و همراهان او برای ادای نماز در مسجد سپین زر حضور یافته بودند.

تاکنون فرد یا گروهی مسئوولیت این انفجار را به عهده نگرفته است .سال گذشته هم محمد عمر از یک سوء قصد جان به سلامت برده بود . در آن حادثه، در مسیر حرکت والی قندوز، که از تخار عازم شهر قندوز بود، بمبی منفجر شد اما به وی آسیبی نرسید.

حاجی محمد حکیم باشنده شهر تالقان که هنگام انفجار دراین مسجد بود، گفت که اجساد والی، ملا امام ویک متنفذ قومی را مشاهده کرده است.

موصوف افزود:" نماز فرض ادا شده بود، سنت را ادا می کردیم، که ناگهان انفجار مدهش صورت گرفت که تمام مسجد را تکان داد."

تعداد معلولان امریکایی در افغانستان رو به افزایش است

تورن دریایی تیلر سوترین در اخیر ماه اگست سال روان میلادی بعد از انکه در یک انفجار در افغانستان دو پا و یک دست خود را از دست داد، درایالت جکسونویل به خانه خود برگشت وفامیلش به خاطرزنده دیدن او، جشنی را بر پا کردند. نظر به معلومات منابع نظامی امریکا تعداد عساکر انکشور که امسال درافغانستان معیوب ومعلول گردیده اند نسبت به سال گذشته رو به افزایش است ، چنانچه این رقم که در سال ۲۰۰۹ به ۴۷ نفر میرسید، تا ۲۳ سپتمبر سال جاری به ۷۷ نفر رسیده است که یک افزایش اضافه تر از ۶۰ در صد را نشان میدهد. علت عمده این معلولیت و زخمی شدن، انفجارآنی ماین های کنار جاده یی است که در زیر زمین در امتداد سرک ها تعبیه شده است. مطابق راپور" آیساف"، قوای ایتلاف در هفته های اخیر که برای عملیات در پناه گاه های طالبان در هلمند و قندهار در جنوب افغانستان رفته اند، قربانی این وسایل شده اند.

این زخمی که به دلیل پوشیدن زره بدنی زنده مانده بود توسط هلیکوپتر به سرعت به شفاخانه انتقال داده شد، اریک الستریک قوماندان دریایی که این عسکر زخمی را به شفاخانه ناتو در حومه شهر قندهار تحویل داد گفت که اکثریت زیاد معیوبین شامل کسانی اند که تنها یک دست و یا پای خودر را از دست میدهند، لیکن ده ها عسکر دیکر امسال چندین عضو بدن خود را از دست داده اند که این رقم دو برابر چنین واقعات در سال ۲۰۰۹ است.

مطابق به اظهارات " میکاییل مولینز" سخنگوی شفاخانه ناتو، دکتوران یک روز بعد، اندام عساکر بازو ، پا و یا دست شانرا قطع می کردند. این عملیات نه تنها شامل عساکر امریکایی می شدند بلکه شامل قوای ناتو، عساکر افغان و حتا افراد ملکی نیز بودند. یک راپور پنتاگون می گوید که وسایل انفجاری فعلاً یک تهدید بسیار جدی برای قوای ایتلاف است که در سال ۲۰۰۹، ۶۲۰۰ عسکر قوای متحد و افغان را کشته که با مقایسه سال ۲۰۰۸ این رقم به ۳۸۰۰ نفر میرسید.

کشته شده گان عساکر امریکایی در افغانستان تا ماه سپتمبر سال روان میلادی امسال به ۵۳۱ نفر رسیده است در حالیکه در سال ۲۰۰۹، ۵۱۴نفر بود.

قراردادی های ناتو، کاروانهای اکما لاتی را به آتش می کشند

منبع: روزنامه اندیپندنت | نویسنده: ریاض سهیل | برگردان: روزنامه اراده



کاروان های اکمالاتی ناتو که از طریق پاکستان به افغانستان عبور می نمایند بصورت منظم مورد حملات قرار می گیرند. اما نظر به تصمیم اخیر حکومت پاکستان که مسیر خیبر پاس را مسدود نموده است ناتو به یک تهدید بزرگتر امنیتی مواجه شده است.

صد ها تانکر و موتر های لاری که درامتداد شاهراه ها در پاکستان معطل قرار داده شده اند، از حد اقل تدابیر امنیتی برخوردار نیستند. ملیشه های طالبان بصورت منظم این کاروان ها را مورد حمله قرار میدهند، حتا اگر انها تحت پوشش تدابیر شدید امنیتی نیز قرار داشته باشند. لیکن بسیاری معتقد اند که طالبان تنها تهدید امنیتی برای این وسایط نیستند، زیرا مالکان تانکر های تیل که معمولا مواد سوخت را برای ناتو در افغانستان تهیه و تدارک می نمایند نیز مظنون به حملات بالای وسایط خود هستند.

شاهدان عینی می گویند که شواهدی موجود است که " قراردادیان ناتو" افراد و کمپنی هاییکه با ناتو قرارداد نموده اند که مواد سوخت و اجناس این قوا را در افغانستان تدارک نمایند، بمب ها را در بسیاری از وسایط خویش قرار داده اند. قرار دادی ها بعد از عقد قرارداد فوراً کمپنی های ترانسپورتی را که مواد سوخت را می فروشند و یا اجناس را انتقال می دهند، استخدام می نمایند.

دوست محمد مالک یک تانکر تیل ازناحیه نوشهره پاکستان می گوید:" اخیراً یک قراردادی ناتو که می خواست یک بمب را در تانکر تیل جاگذاری نماید، دستگیر شد."

،ین واقعه در منطقه یی بنام " پایی" اتفاق افتاد که او می خواست بمب را در زیر موتر قرار دهد، در این اثنا چند نفر دیگر بالای تانکر با سلاح فیر نمودند.

معاون پولیس بعداً اظهار نمود که شخص متهم اعتراف نمود که او بمب را نظر به گفته قرار دادی به زیر موتر گذاشته بود.

دوست محمد اضافه نمود که قرار دادی ظاهراً در قدم نخست ۲۰۰۰ لیتر تیل را از جمله ۵۰،۰۰۰ لیتر فروخته بود که به خاطر پوشانیدن جرم خویش به این کاراقدام نمود."

دوست محمد افزود: " این کار برای قراردادی ها یک موفقیت است، اگر یک وسیله کهنه حریق شود ناتو برای شان پول قیمت یک موتر جدید را میدهد بر علاوه اینکه انها پول غرامت را برای تمام مواد سوخت ضایع شده دریافت میکنند.

ولی تسنیم احمد معین وزارت داخله پاکستان این ادعا را رد نموده می گوید:" ما چنین معلومات به دست نداریم که قراردادی های ناتو خود شان تانکر ها را به اتش بکشند. تاکنون چنین شکایتی به نظر ما درج نگردیده است.

لیکن رییس پولیس نوشهره نثار تانولی یک برداشت مختلف نسبت به این قضیه دارد. او در صحبت با بی بی سی دو حادثه اخیر را تایید نموده گفت:" حد اقل دو حادثه منفجر شدن تانکر های تیل در این ناحیه رخ داده است؛ یکی در منطقه " پایی" و دیگری در منطقه " واتک" نزدیک اکوره ختک.

در هر دو حادثه تانکر های در این مناطق برای چند روز توقف نموده بودند، در جریان این مدت بمب های که در خانه های نزدیک همین محل ساخته شده بودند مورد استفاده قرار گرفتند. او اضافه کرد قراردادی در عجله بود که یک کاپی راپور ابتدایی پولیس را از این حادثه به دست اورد و به ادامه تحقیقات علاقه نداشت.

در حالیکه چند روز بعد ترنماینده کمپنی بیمه پیدا شد. تونالی افزود پولیس تحقیقات خود را ادامه داد و به تدریج به حوادث روشنی انداخته شد. ما اکنون چند دریور و کمک کننده انها را دستگیر نموده ایم.

او افزود در اینجا حوادث فروش مواد سوخت طیاره نیز به مشاهده رسیده است در حالیکه قراردادی ها سپس گفته اند که تانکر سوراخ شده بود و یا تانکر اتش گرفت.

نویسنده می افزاید:" ماموران اطلاعاتی پاکستان و افراد امنیتی ممکن به خاطر جستجوی راه دیگر، این حملات را تشویق نمایند. اما علی رغم این همه نگرانی های اضافی، خطر عمده از طرف طالبان متصور است.

اسرارالله شینواری یک سخنگوی کمپنی تانکر های تیل تمام پاکستان می گوید :" ما در این هنگام خیلی ها در خوف هستیم، ما یک هدف باز برای ملیشه ها هستیم، از زمانیکه راه خیبر جبرا مسدود گردیده است تقریبا در حدود ۳۰۰۰ تانکر در امتداد مسیر پاکستان توقف نموده اند، مسدود شدن راه، ده ها میلیون روپیه برای ما نقصان رسانده است در حالیکه این مقدار ضرر شامل خسارات حملات بالای تانکر ها نیست.

او افزود طالبان به وضاحت اعلام نموده اند که تانکر ها را مورد حملات خویش قرار خواهند داد، در حالیکه ما هیچگونه تدابیر امنیتی را تا کنون اتخاذ نکرده ایم.

از سال ۲۰۰۷ ملیشه ها صدها وسایط ترانسپورتی ناتو را به خصوص در مناطق قبایلی خیبرتخریب و یا ربوده اند.

لیکن یک تحلیلگر امنیتی پاکستانی می گوید حرکت اخیردر حکم جرات دادن ملیشه ها است که یک اقدام واقعی به کاروان باشد." به این معنا که وزرای حکومت به خاطر فرو نشاندن قهر مردم در خواست حمله را می نمایند تا چنین وانمود سازند که انها انتقام مردم را می گیرند." وی می افزاید :" ماموران اطلاعاتی پاکستان و افراد امنیتی ممکن به خاطر جستجوی راه دیگر این حملات را تشویق نمایند، در حقیقت پیشنهاد های اجنسی ها نیزممکن در عقب این حوادث دخیل باشند."

به سلسله همین حملات شب پنجشنبه افراد مسلح ناشناس در نزدیکی پل اتک ایالت خیبر پشتونخواه پاکستان، یکبار دیگر بر موترهای اکمالاتی نیروهای ناتو مستقر در افغانستان، حمله کرده و ده ها موتر را حریق نمودند.

این رویداد در منطقه خیرآباد بین ولسوالی ص۳



- تا ۸۰ فیصد ذخایر ناتو در افغانستان از طریق پاکستان عبور می نماید
- اکثریت دریوران ۱۲۰۰ مایل (۱۹۳۱ کیلومتر) فاصله را از بندر کراچی از طریق تورخم تا کابل طی می نمایند
- روزانه در حدود ۱۰۰۰لاری های کانتینر و تانکر ها از این طریق به کابل عبور می نمایند
- خیبر پاس ۵۳ کیلومتر(۳۳ مایل) طول و ۱۰۷۰ متر (۳۴۴۴ فت) ارتفاع دارد
- در حدود ۱۵۰ لاری ازخط السیر جنوب از چمن به قندهار میروند

کنوانسیون حقوق اطفال
اوه دیرشمه ماده: د ماشومانو ربړونه، له هغوی سره ظالمانه چلند، دایمي بندیانول او دهغوی اعدام منع دي.
مادۀ سی و هفتم : شکنجه، رفتار ظالمانه، زندانی کردن دایمی و اعدام اطفال ممنوع است.
این پیام از طرف کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان تقدیم گردید

برای نشر اعلانات تان به این شماره ها تماس حاصل نمایید: ۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴ / ۰۷۸۷۷۰۷۶۲۸ - ۰۷۰۰۵۹۶۲۰۵ / ۰۷۹۷۸۵۹۰۴۰

اراده ورځپاڼه یوازې دسرلیکنې ننګه کوي، نورې لیکنې دلیکوال خپل نظر دی، ورځپاڼه یې مسولیت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک :
قیمت یک شماره: (۵) افغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشرات افغان
روزنامۀ ملی اراده
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول : خادم احمد
موبایل :- ۰۷۰۰ ۵۹۶۲۰۵
Khadem.kabul@yahoo.com
معاون : استاد مرتضی فرحتیار
موبایل :- ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com

ادیتور پشتو: مجیب الرحمن امیری
موبایل :- ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
دیزاین : انجینیر محمدجمیل "امیری"
همکار تخنیکی: محمدجمیل "احمدی"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
ایمیل:
erada.daily@yahoo.com
آدرس : دهمزنگ، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire:
Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Mojiburahman Amiri
Designer: Eng, Mohammad Jamil Amiry
Address: Behind Baree kout-cinema,
first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com